# د سوید ن په دیموکراتیکه پا چا هي کي بهرنیا نو اوکډوالو ته دمورنۍ ژبې دزد ه کړ ي حق

## دکډوالوراتګ سویدن ته:

که وګوروچې دسویدن هېواد ته د ډېروهېوادوڅخه په زیات تعدادکډوال اوبهرني وګړي د ددوهمي نړیوالې جګړې داور د لګېد لو له کبله رامها جرشوي دي.
همدارنګه د نورو ډول عواملو لکه سیاسي،اقتصادي ،دیني،مذهبي، زور،ظلم، تېری،بې عدالتي اونورو له کبله دنړۍ له ټولو وچوڅخه لکه :اروپا ،افریقا ،لاتیني، امریکا او اسیا څخه دا لړۍ لاتراوسه جاري ده اوپه همدې هېواد کې میشته کېږي اوژوند اختیاروي .په همد ې ډو ل په اتیاوموکلو کې چې په افغانستان کې دسیاسي اقتصاد ي او ټولنیزي ګډوډي ،خار جي وسلوالو تجاو زونواونورو ډول ډول خپل منځي ناخوالوله کبله افغانان هم د نړۍ څلوروخواوو ته دمهاجرت لاره خپله کړه او همدارنګه دسو ید ن هېواد چې د مځکي اخیرنۍ نقطه ده هم يې ځانونه راورسول او لا تراوسه هم په آفغانستان کې دبې ګناه انسانانوویني تویږي اوځیني افغانان دخپل وطن پرېښودلوته مجبورېږي اوځانونه دیموکراتیکو ملکوته رسوي اوسویدن ته هم ځانونه رارسوي. دسویدن دیموکراتیک حکومت دغومهاجرینوته دژونددنورو لازیمو اوضروري امکاناتو اواسانتیا وو برسېره دا لاندي حقونه ورېیا او له اقتصادي مرستو سره یوځای په اختیارکې ورکړې دي لکه:

### ـ دمورنۍ ژبې ز د ه کړه.

### ـ د خپل کلتور سا تل.

داحقونه د سوید ن په هېواد کې دقا نون پر بنسټ په لاندي ډول ټولواوسېدونکوته تنظیم شوي:

١ - ټول کډوال او بهرنیان حق لري چې د مورنۍ ژبې دلوست او زده کړې څخه په سویدني ښوونځیو کې برخه مند شي.

۲ – ټول کډوال او بهرنیان حق لري کلتوري اوفرهنګي ټولني او اتحادیې جوړې کړي ترڅو دسویدني د کلتور په درناوي سره خپل کلتور ژوندی وساتي.

دا دواړه حقونه خورا دآرزښت اودرناوي وړدي چې دسویدن قانون دکډوالو او بهرنیانو په اختیارکې ورکړي دي. دا نوبیادمها جرو ینوپه هڅه اوهاند پوري اړه لري چې له دغو قانوني امکا ناتو څخه دخپلې ژبې اوکلتور په ساتلوکې څومره ګټه اخلي.داپریکړي چې په ۱۹۷۵ع کال کي دسویدن پارلما ن په راتلو نکي کي دمها جرینو دحقونوله پاره تصو یب کړې یو ډېرپراخ سیاسي اصلاحات وو ترڅو مها جرین اوبهرنیان دژوندانه په ټولو اړخونوکې پرمختګ وکړي ځانو نه ډاډمن ،مطین اود مسونیت د احساس په درلو دلوسره سویدني ټولنې ته دبرابري، ازآد انتخاب حق ،د ګډي مرستې په احساس اوروحیه سره په اساني دننو تلولاره وومومي داچې دسو یدن په دیموکراتیک هېوادکي ټول مهاجرین او لیږه کی هغه حقونه اومسو لیتونه لري کوم چې یوسویدنی یادسوید ن یواصلي اوسېدو نکی یې لري،او دقانون په په وړاندي هم د برابرو حقونو ، مسؤ لیتو نولرل او پېژندل دي،اوله هغو څخه، پوره ګټه واخلي، په درناوي سره یې مرعات اوتطبیق ته یې غاړه کېږدي. ټو ل کډوال او په سویدن کې اوسېدو نکي بهرنیان حق لري چې دخپل هویت او ځان پېژندني داثبات له پاره خپله ژبه اوخپل کلتوري آرزښتونه زده اوژوندي وساتي داددې له پاره چې په راتلو نکې وخت کي که کډوال په خپله خوښه غواړي په سویدن کې پاته شي اویا هم بېرته خپلو اصلي ټاټو بوته ستنېږي ترڅوله ستونزو سره لاس اوګرېوان نه شي. ټول مها جرین دد ې امکا ن باید ولري چې دخپل نفوذڅخه په دغه ټولنه کي چې اوسي او په هغوپرېکړوکي چې ددوی دژوند په شرایطوپوري مستقیمه اړه ولري ګټه پورته کړي، اوهمدانګه په ازادوانتخاباتو کي دخپلي خوښي رایه وکارو ي.دسویدن دحکو مت دغه پرېکړي په سو یدن کې داوسېدو نکوکډوالو له پاره چې له ډېره پخوا دغسي پرېکړوته سترګې په لاره وو دډېرې خوشالي اوهرکلي وړوګرزېدې.که دزړه له کومي ورته وګورو دا داسي یوه کړنه ده چې په ډېروهېوادوکي یې مثال نه لیدل کېږي.که موږخپل پلارني وطن افغانستان ته نظر واچوو نووبه وینو چې دافغان اصلي بچیان له داسي حق څخه محروم وو او محروم دي. نودداسي پرېکړوعملي کېدل د مها جرینو داهمیت وړاو مهمه دنده ده.دا دنده به هغه وخت کې ښه پلي اود عمل جامه اغوستلای شي چې مهاجرین او په سویدن کې اوسېد ونکې خارجیان سویدني ژبه زده کړي، دکلتور په باره کې معلومات پیداا و په ټولنیز ژوندکې

خوځېدونکي ونډه واخلي. زه نه غواړم په کلتوري دندوخبري وکړم ،کلتوري دندي به کلتوري ټولونوته پرېږدو دهغوی دنده ده چې افغاني غوره کلتوري آرزښتونه ماشو مانو اوراتلو نکي نسل ته په پوره اوسمه توګه ورسو ي. نه داچې کلتوري ټولني دخپل وطن د زړو چینجنو سیاسي، مذهبي،قومي،ژبني اومنطقوي دوښمنیو ، بې ګټې بانډاروا وساعتېریو مرکزونه جوړ شي.

غواړم دمورنۍ ژبې په هکله به یوازي هغوستونزوته ګوته ونیسم چې دمورنۍ ژبې دزده کړې خنډګرزي او یا یې ستونزمن کوي. هغه دوه ډوله دي:اوله ستونزه په حکومت اودوهمه یې په ښوونکو اووالدینو پوري اړه لري .مورډمالموپه ښارکې دپښتوژبې ښوو نکي دخپلې اسلامي اوافغاني سپېڅلي دندې دمسولیت داحساس پربنسټ فرض ګڼو چې دغه پریکړې به په خپله ګټه داسي پلې کړو چې دافغان پښتنو مسافرو اوپردېسو بچیانو په خلواوقلم کې پښتوژبه دتل له پاره ژوندۍ پاتي شي.

ټول اتباع دسویدن دقانون له مخې مسؤلیت لري ترڅو خپلې دندې په ایمانداري سره سرته ورسوي اوماشومان په ښه اومثبت ډول له دغوحقونو څخه ګټه مندکړي ترڅو ټولني ته دیوې ژبې په ځای ددوو ژبو ویونکي وړاندي کړي،هم به یې خپله فریضه ادا کړي وي ،خپله ژبه اوکلتوربه یې له مرګه ساتلي وي اوټو لني ته به یې دآرزښت وړ چوپړ ترسره کړی وي. کره خبره ده چې هره ټولنه دیوې ژبې په ځای ددوو یا ډېرو ژبو ریښتینوویو نکو ته خوراړتیا لري ترڅودټولني دلاښه پرمختګ کې ځغرنده رول ولوبوي. بایدووایم چې زموږ هلې ځلې دژبې په لوست اوزده کړه کې هغومره چې لاز مه ده اوموږهیله لروښې پایلې نه لري. داولې؟ ددې سوال ځواب به زماپه نظرپه څو لاندي علتونوکې چې مو جوددي یوځه ناځه وویل شي هغه دادي:

ــــ دمورنۍ ژبې دلوست وخت کم دی.

ــــ درازراز سویو زده کوونکې په یوه ګروپ کې.

ــــ دمورنۍ ژبې لوست دورځې په پای کې وي.

ــــ دښوونکو تغیراوتبدیل.

ــــ ځیني ماشومان علاقه اودلچسپي نه لري.

ـــ دمورنۍ ژبې ښوونکي ته آرزښت نه ورکوي.

ـــ والدين همکاري نه کوي

ـــ ددوبي اوژومي رخصتۍ

ـــ په ځينو کورنيو کي والدين دخپلو اولادونو سره په سويدني ژبه خبرې کوي

ـــ دمورنۍ ژبې دلوست وخت خورا کم د ی چې په يو ه هفته کې يوازي يونيم ساعت د ی اوهغه هم دورځې په پای کې و ي نود يوې هفتې په تېرېدو سره ه هر څه چې زد ه کوونکوپه ښوونځي کې لوستي وي، اويا هم ښوونکي ورته ويلي وي نو کله چې بله اونۍ زده کوونکي ټولګي ته راځي دتېرې اونۍ لوست اوخبرې يې ټولې هېرې کړي و ي دا ځکه چې اکثره زده کوونکې په کوروکې دمورنۍ ژبې لوست نه وايې اونه يې تکراروي آن تردې چې دمورنۍ ژبې وخت اوکورنۍ کاريې هم په يادنه وي کله چې دمورنۍ ژبې ښوو نکی ووني نووايي:

«زمو ږ په کورکي مېلمانه وو ياهم مو رږ دخپلوا نو په کورکې مېلمانه وو ،ماازمو ينه درلوده اويا هم دناروغۍ باني اونورې ډول ډول لاري اوخبرې سنجو ي ترڅودښوو نکي قناعت حاصل کړي اوځانوته برأت ورکړي». زمورږمشوره به داوي، که هره ورځ کم له کمه لس دقيقې په کورکې دپښتوژبې لوست يادرس تکرارکړي اودخوکلېمو ليکل زده کړي نودمورنۍ ژ بې په زد ه کړه کې به خورامرسته ورسره وکړي،هم به دژبې دژو ندۍ پاته کېدو هيله زياته شي اوهم به دښوونکو اووالدينوهلوځلو ښه نتيجه ورکړي وي. دا کاريوازې اويوازي دوالدينو اومشرانوپه ځغرنده مرسته پوري اړه لر ي. او همدارنګه د مورنۍ ژ بې دښوو نکو اووالدينو ترمينځ دهمېشنۍ رابطې په واسته ترسره کېدای شي. که نه دوخت په تېرېدو سره به والدين او اولادونه يودبل په خبرو نه پو هيږ ي او مورنۍ ژبه به دراتلو نکي نسل له خلوڅخه دتل لپاره ولوېږي اوپه ځانګړې توګه پښتوژبه دځينو ښکاره مثالونو په اساس داوسني نسل په له مينځه تلو سر ه به د مها جروپښتنو کورنيوکي مړه اوفاتحه به يې په خارجي ژبووا خستله شي.که ځير شو وبه و ينو چې پښتنوله خپلي ټولنې څخه دباندي دژبې دژوندۍ سا تلو له پاره اړين هاندنه دی ترسره کړی. که تاريخ ته نظر واچوو اودهندپښتانه دافغانستان له هندوانو اوسکهانوسره دژبې په ساتلو کې پرتله کړونو جوته به شي چې په هندکي

پښتنو خپله ژبه هغومره نه ده ساتلې لکه هندوانو او سکهانو چې په افغانستان کې خپله ژبه په خولو او قلم کې ښه ټینګه ساتلې ده.

بل دا چې که د پښتنو دې اخېرنیو دریو لسیزو لېږد پر نه ګاونډیو او یا هم د نړۍ نورو هېوادو ته چې شوي ده وګورو او د پخواني شوروي کمونیستي جمهوریتو نو سره یې پر تله کړو په ډاګه به شي چې د هغو جمهوریتو وګړو له ډېرو محرومیتونو او ستونزو سره سره خپله ژبه او خپل کلتور په مېړانه او ویاړ سره ساتلې دی. مګر د پښتنو ځوان نسل په کور به هېوادونو کې خپل کلتور ته شا اړولې او هم یې خپله ژبه مهار کړې ده. که ډېر لیرې ولاړ نه شو او نېږدې خپل هېواد ته وګورو ډېرو هغو پښتنو کورنیو چې دري ویونکو سیمو یا ښاروکې ژوند اختیار کړی د ی نو یې د پښتو له ژبې سره مخه ښه ویلې ده چې رښې ښېلګې یې ټول وینې.نو پرځای ده وو وایم چې زمو ږ د مورنۍ ژبې دلوست وخت کم دی وداوخت پښتو ژبه دزده کونکو په خولو کې ژوندۍ نه شي سا تلای.

بله یو ه ستو نزه دمورنۍ ژبې د مهال وېش یا تقسیم او قات جوړېدل دي:دا هم اسانه کار نه دی، دژبې دزده کړې تقریباً یو یادوه درسي ساعتونه نیسي، داځکه چې یو ښوونکی په رسمي وخت کې دهغوزده کوونکو لپاره چې په سویدني مضمنو نوکي مرستې ته اړتیا لري دټولګي دښوونکو په موافقه یوداسي مناسب وخت غوره کړي ترڅو نورو ټولګیو اوښوونحیوته دمقرراتو سره سم رسیدګي وکړای شي یعني یو وخت په دوو ټو لګیو یادوو ښونځیو کې په ټکر کې واقع نه شي داکارځوځله دښوونځیو له ادارو او ښوونکو سره مشورو او موافقوته ضرورت لري ترڅو یو مناسب مهال وېش جوړ شي. ځکه دمورنۍ ژبې دښوونکي مکلفیت په یوه ښوونځي کې نه بلکې په څو ښوونځیو کې پوره کېږي او په هرښوونځي کې دمختلفو سویو یاداچې له اول ټولګي څخه شروع بیا ترنهمه ټولګي پوري زده کوونکې دمورنۍ ژبې په یوه ټولګي کې سره راټولېږي اوداټول زده کونکي په مختلفو اوبېلوبېلو وختوله سویدني لوست څخه رخصتېږي بیانودمورنۍ ژبې ښوونکی مجبوردی چې دلوست له پاره خپل زده کوو نکي په ښو منډو تر ړو دښوونځي له دهلېزو او د ساعتېرۍ له ځایو څخه راټول او ټولګي ته یې رهنمایې کړي.لکه چې مو وویل داچې دمختلیفو سویو زده کونکي په یوه وخت او یوه ټولګي کې د مورنۍ ژبې زده کړي له پاره تنظیمېږي، معلومه خبره ده چې دا یو ستونز من کاردی چې دلومړي ټولګي اود نهم ټولګي زده کوونکي په یوه ټولګي کې

سره تنظيم شوي اولوست لولي. داځکه چې په يوه ښوونځي کې ديوې سويې زده کوونکي چې پنځه نفري ګروپ جوړکړي نه وي. نودمورنۍ ژبې ښوونکی مجبوردی چې دداسي لوست مېتودونواواصولو ځخه ګټه واخلي ترڅووکولای شي ټول زده کونکي فعاله، مصروف اوپه لوړه کچه يې دپښتو ژبې له زده کړي څخه ګټه مندکړي. مګرڅومره چې لا زمه ده داسې نه کېږي.

ـــ دمورنۍ ژبې لوست دښوونځي له رخصتيدو څخه وروسته شروع کيږي دا هم يوه داسي ستونزه ده چې دزده کونکوخصوصأدوړوزده کوونکويعني له اول ټولګي څخه بياترشپږم ټولګي پوري دمورنۍ ژبې په زده کړه ناوړه اغېزه کوي ځکه داماشومان دسهار په اتو بجو خپل اصلي يعني سويدني لوست شروع کوي بيا نودورځي تردوو بجوياترڅلورو بجوپوري عميقأدراز راز مضمنونوپه زده کړه بوخت وي.نومعلومه ده چې زده کوونکي روحي او جسمي ستړي کېږي اوهم دغه ستړيا په خوله اوحرکتوکې ځرګندوي دمورنۍ ژبې ښوونکي په دې ښه پوهيږي ولې څه نه شي کولای اوله خپلو ستړو زده کوونکوسره دمورنۍ ژبې په زده کړه مشغولېږي.بله خبره داچې ماشومان دغرمې ډوډۍ چې دښونځي لخوايې ترتيب اوتنظيم داسي شوی وي چې ټول ټولګي ببل ببل اومنظم ډول سره ډوډۍ وخوړلای شي نو له يوولسو بجو څخه يې شروع کوي او په يوه بجه ختمېږي.نوواړه ماشومان تر څلورو بجو پوري بيا وږي کېږي اوهره لحظه پوښتنه کوي څه وخت رخصتېږو او وايي وږی يم.مګر ښوونکی برسېره پردې لا هم له خپلو وږو زده کوونکوسره لوست ته دوام ورکوي.غواړم ووايم چې په ځينو کورنيو کې کوچنيا ن دشپې لخواناوخته ويده کيږي نودمورنۍ ژبې دلوست په وخت کې يې اررېمي وږي او خوب ورځي اوسرونه په مېز ږدي داهم دزده کړې خنډدی. له محترمو والدينو اومشرانو څخه په درناوي سره هيله کېږي ترڅو په دې هکله هم پاملرنه وکړي.

دښوونکو تغير اوتبديل: ديادولو وړ بولم چې ځني وختونه درهبري مقام له خوا او ياهم د ځينو تخنيکي ستونزو پر بنا ښوونکي له يوه ښوونځي څخه بل ښوونځي ته تبديلېږي چې دا کار هم دشاګردانو په زده کړه ناوړه اغېزه ښيندي. غواړم ووايم چې کله کله د زده کونکو له کړو وړ څخه داسي معلومېږي لکه چې له پخوا څخه له ښوونکي سره کوم خپګان اوخوا بدي لري او يا هم دښوونکی انځو ر ورته ناوړه بريښېدلی اوآنځورشوی وي. زما په نظر زده کوونکي داسي تصورکوي چې دمورنۍ

ژبې ښوونکی کوم قدرت اورول نه لري وايي :(يومهاجر زه او بل مهاجرته) !نوځومره داهميت وړ يې هم نه بولي اواکثريت شاګردان دمعلم خبروته غوږ هم نه نسي، کورني کارونه نه کوي کوم وخت چې دښوونکو له خوا په جدي ډول دکورني کاراولوست دزده کړې غوښتنه له زده کوونکوڅخه وشي نو کله کله داسي هم کېږي چې زده کوونکي وايي (زه هيم سپروک نه وايم)يعني زه د مورنۍ ژبې لوست نه غواړم ياهم دمکتب ادرې ته ځي اوله خپل دمورنۍژبې له ښوونکي څخه شکايت کوي اووايي (ما تهديد وي،ماسپکوي اوحتاوايي چې ماوهي) داخبرې ځکه کوي چې دسويدن په قانون کې جدأ ممنوع دي اوهم دمورنۍ ژبې لوستل جبر ي نه دي يا هم ځني نورسياسي،قومي اومنطقوي عوامل ممکن موجودوي. حال دا چې دقانون په وړاندي دسو يدني ژبې ښوونکی او دمورنۍ ژ بې ښوونکی يو ډول حقونه اومسؤ ليتونه لري. ښه به داوي چې واليدين اومشران داسلام دمقدس دين دآرزښتونواو افغاني عنعناتوپه رڼا کې استاذانواوښوونکوته د درناوي اواحترام په هکله ځه ناځه معلومات خپلو اولادونو ته ورکړي ترڅودمورنۍ ژبې دښوونکو احترام اودناوی وکړي اوخبروته يې غوږ ونيسي.

خورامهمه خبره غواړم وکړم هغه داده چې: هغه ماشومان چې په ټيټو ټولګيوکې ځي نودمورنۍ ژبې زده کړې ته ځوره اهميت نه ورکوي، کوم وخت چې دنمرو په اهميت پوه شي وخت ځني تېرشوی وي اودښونمرو په سويه يې ژبه نه وي زده کړې نوغواړي چې ښې او فوقالعاده نمرې ولري حتی(جنجال) هم کوي اوسل لاري سنجوي ترڅو ښوونکی مجبورکړي اوښې نمرې ځني واخلي.ښونکی نه شي کولای چې د وطنداري او پښتنو لي په خاطر نمرې ور ته ورکړي نوهغه ده چې د زده کوونکو شکا يت پورته شي، دښوونځي اداري ته داسي شکايت کوي او وايي:زموږ معلم بد سړی دی، درس نه را کوي،موږ تحقير وي، موږ تهديدوي اوداسي نوري خبري. اميد لرم محترم والدين دي دغې خبري ته هم تو جه ولري ترڅودمورنۍ ژبې څخه ماشامانودتېښتي لاره بنده شي.

ماشومان دپښتو ژبې له زده کړې سره ښه علاقه اودلچسپي نه لري اونه غواړي چې دپښتولوست وو ايي داهم ډول ډول علتونه لري چې ددوي دنه دلچسپي سبب ګرزي. چې داعلتونه بايدپيدا اودحل لاري چاري يې وسنجولې شي. دزده کوونکو تشويق او هڅول دوالدينو ،مشرانو اوښوونکو ګډه مهمه دنده ده چې ترڅوزده کوونکوته

دمورنۍ ژبې اهميت ور و ښودل شي يعني د خپل ځان پېژندنه اوهويت ثابتول او ساتنه يوازي او يوازي دمورنۍ ژبې په زده کړه پوري اړه لري.

ــ ددوبي اوژومي رخصتۍ هم ستونزه ده چې په دغو ورځوکي يو تعدادفاميلونه وطن ته درخصۍ دتېرو لو له پاره په خوراز يات لګښت سره سفرکو ي چې داسفر له يو ي خواډېرګټوردی،داځکه چې ماشومان دخپلوخپلوانوسره پېژ ندګلوي پيداکو ي،پښتو خبري افغاني درناوی، دوونه، روا جونه،کورنۍ ګډژوند ، کلتوري اوعنعنو ي ښېګڼي زده کوي داکارډېرد آرز ښت اوقد رووړدی. خودبلې خوادپښتوتوري نېږدې ټول هېرو ي په خاصه توګه هغه ماشومان چې دلته يعني په سويدن کي زوشوي وي.
نورپاته فاميلونه اوکورنۍ چې وطن ته سفرنه کوي اوهمدلته اوياهم په ارو پايي هېوادونوکي ددو بي اوياژمي رخصتي تېرو ي نوزده کوونکو تقريباً ټول اوپه پوره توګه د پښتو ژبې توري هېرکړي وي.نوکله چې بل اويانوي تعلمي ترمين پېل شي بيا الف او ب له سره شرو ع کېږ ي بيا له سره زد ه کو ي خورا زيا ت وخت نيسي.

ــ والدين همکاري نه کوي:ځيني والدين اومشران له خپلو اولادو او کشرانو سره خومره چې لازمه ده هغو مره مرسته دمورنۍ ژبې په زده کړه کې نه کوي او کورني کار ته يې نه متوجه کوي.حتا ولای شم چې اولادونه اوپلرو نه کم سره ويني.پلرونه به البت کارونه کوي اووخت به نه لري، مګر داولادو سره مرسته او هغوی ته دخپلې ژبې زده کړه ترماديا تو ډېره مهمه اودآرزښت وړ ده. داسي هم شته چې کله کله دکورنۍ مشران کارهم نه کوي خو د کشرانو سره کم ويني دهغوي له سالمې تربيې اودزده کړي ځخه بې خبره و ي. مشرانو ته لازمه ده چې دخپل و خت د ښه تېرو لو په ځای د کشر انود ښې تر بيې او پښتو ژبې زده کړې ته زياته پاملرنه وکړي او دا کار يې مهمه فريضه هم ده. دا ډېره مهمه ده چې موږ دخپلو اولادوسره ډېره مرسته وکړو ،تشويق اومتوجه يې کړوترڅو هغوی دخپلې ژبې دزده کړې په اهميت پوه شي. ما شومان دمشرانوله مرستې پرته نه شي کولای لوستل،ليکل اوکورني کارونه وکړي او دژوند نېکه او سمه لاره غوره کړي.

ــ په ځينوکورنيوکي ماشومان په سويدني ژبه خبرې کوي:دا خبره به ټو ل محترم والدين را سره ومني چې په زيا تروکورنيو کې کو چنيا ن په سو يدني ژبه خبري کو ي په سو يد ني ژبه سا عتېر ي کو ي،په سويدني ژبه فکر کوي او په سويد ني ژبه سپکي سپورې سره وايي. حتا ځني والدين اومشران هم ورسره په سويدني ژبه ګړېږ

ي .دامهمه ده چي سویدني ژبه ښه زده کړي ځکه ټول د ژوندمادي اومعنوي اړخونه د هغې ټولنې په ژبه پوري تړلي او اړه لري چېري چې څوک ژوندکوي اودژوندټول مادي او معنوي ضروريات دهغې ټولنې څخه پوره او لاس ته راوړي. مګردا کارکېږي اودا ژبه هم ښه او پوره زده کوي. ځکه ماشومان په سویدن اویاکوم بل غربي هېوادکې دیو کلنې څخه په وړکتو ن کې شامیلېږي او ټول چاپېریال يې همهغې ژبې احا طه کړی و ي نو د ژبې علمي زده کړه هم له همهغه ځايه څخه شروع کېږي.

(که څه هم ماشوم آن لا تر زوکېدو دمخه غږونه اوري،دمورغږ پېژ ني ،خندا ،خوشالي،خپګان، ژړااو پرېشاني اوري پوهيږي اوعکسل العمل ښييي،)

نوکله چې ما شومان له وړکتون، ښوونځي اولوبوڅخه کورته راشي له همهغو کړو وړو غږونواو آوازو څخه استفا ده کوي کوم چې په وړوکتون اوښوونځي کې يې له ښوونکو او نورو ماشوما څخه اورېدلي، ليدلي او زده کړي وي. په کور کې هم هغه کم وخت چې ماشوم ويښ وي کوم حرکات او غږو نه چې کوي د وا لدينو اومشرانو له پاره خوراخو شحالو نکې،په زړه پوري اوور باندي وياړي بي لدې چې په را تلونکي وخت کې دماشوم مورنۍ اويا پلارنۍ ژبې زده کړې ته کومه پا ملرنه ولري د ماشوم په ژبه،ساعتېري اوفکرورګډېږي آن تردې چې خوب هم په همهغه ژبه ويني. دژبپوهانودمطالعواوتجربوله مخې ويلای شم چې له همدغه ځایه دماشومانو له خولو څخه دمورنۍ ژبې لوېدل پيل کېږي.

## زموږ درسي مواد:

د لوست کتاب:

د يادولوړبولم چې دپښتوژبې ټولو محترمو ښوونکو دکتا بونه اودرسي موادو په برابر ولو اوراټولولو کې خورازياتې هلې ځلې کړي دي چې ددرناوي وړدي. ځني مواد اوکتابونه يې له افغانستان څخه ، له اروپايي هېوادوڅخه اوهم يې له نورو ژبوڅخه د خورا زياتي ستړيا په منلو سره ټول کړي او ژباړلي دي.

ولي دا کتابونه دوطن دزده کوونکوله سويې سره به سم وي مګر هغو زده کوونکو له پاره چې په سويدن کې زوشوي يا هم واړه راغلي دي زده کړه يې ورته سخته او خوراستونز منه وه نو محترم استادعبدالعلي رسولزاده په نوښت او دخورا زيات زيار او زحمت په ګاللوسره يې دهمد غواو نورو کتا بو نوڅخه اسانه، علمي معلو ماتي ، تربيوي تاريخي ،دافغانستان علمي اوتاريخي شخصيتونه په هکله ليکلني شوي دي.

همدارنګه ډېرضروري ديني اوکلتوري مسايل چې زده کوونکوته دزده کړې وړدي را ټول کړل اوپه اسانه ژبه يې په جلا توګه په غټواو روښا نو تورو له تمرينونوسره يوځاي وليکل دمننې په ويلو سره موددزده کوونکوپه واک کې ورکړل ، زماله پاره يې خوراښه پايله اونتېجه ورکړه اوهم د زده کوونکو اودهغوی دوالدينوهم دخوښي وړوګرزېدل.

د پښتو لنډ ګرامر:

بل زموږدپښتوزبې دلوست او زده کړې له پاره پښتوژبې لنډګرامردی چې همدارنګه د رسولزاده صاحب په زيار راټول شوی، ترتيب شوی اوغټ عنوانه يې په سويدني ژبه هم ورته ماناکړي دي چې زده کوونکوته د فهم اودرک وړدی. دزده کوونکو په اختيارکې ورکړشوي دي اود پښتوژبې په زده کړه کې ښه مرسته ورسره کولای شي.

دافغانستان لنډه جغرافيه:

په جغرافيه کې زده کوونکي دګران افغاستان په هکله ځني مهم اوضروري معلومات پيدا کوي لکه: دافغانستان موقعيت، څلورخواوي،اداري ويش،دولايتونومونه،لوی اومشهورغرونه، مشهورسندونه،کرهنيز حاصلات ،تازه اووچې مېوې،ترمځکې لاندې ذخيرې اوکانونه. همدارنګه لاسي صنعت اودافغانستان دوګړو مشغولتيا ورته تدريس کېږي.

لنډې کيسې اوترجمه:

په دې برخه کې زده کوونکي د پښتواوسويدني ورته لنډې په زړه پوري کيسې لولي اوزده کوي،چې داکيسې زياتره د ژوو ،مرغانواو نانځکو په باره کي ويلې شوي وي چې انتقا دي تربيوي، اواصلاحي اړخ يې ډېر لوړ آرزښت لری بيانودا کيسې زده کوونکو ته دکورني کارپه ډول ورکولي کېږي تر څو له پښتوژبې څخه سويدني ته اوله سويدني ژبې څخه پښتوته واړوي ياداچې ويې ژباړي اوترجمه يې کړي.

دودونه اورواجونه اودهغوی مقايسه(پرتله) يې له سويدني دودونو اورواجونوسره کړي ترڅوزده کوونکي دخپل هيواد کلتوري آرزښتونو ،دودونواورواجونو څخه خبرشي اوهم مورنۍ اوپلارنۍ ژبه زده کړي اودا ژبه د آينده نسلونو په خلو کي ژوندۍ پاته شي.

همدارنګه د ښوونکوله علمي اومعلوماتي پانګې څخه زده کو نکې په پوره توګه برخه مند کېږي هيله لرم او بيا هم وايم چې ښوونکي، والد ين او کلتوري ټولني په ګډه دنده لري چې پښتو ژبه په سويدن کې اوسېدونکو افغانانودآينده نسل په خولو کې ژوندۍ وساتي.

عبدالسلام اندړ